## کاذبه بیه

هغه بیه ده چې د مالونو د بیې ټاکل له شك او تردید سره مخامخ کوي. دری: [قیمت کاذب]

## کار

هغه فکري یا جسمي فعالیت دی چې شخص یا اشخاصو ته د کالیو د تولید یا خدمتونو د وړاندې کولو په مقصد وي. دری: [کار]

## کارخانه

هغه ځای دی چې د کار د ترسره کولو لپاره د کارفرما له خوا کارګر او یا کارګرانو ته جوړېږي او هدف یې تولید وي. دری: [کارخانه]

## کارفرما (کار ښودونکی)

هغه شخص (حقیقي وي او که حکمي) ته ویل کېږي چې حقیقي شخص یا اشخاص د کار د ترسره کولو په مقصد د مزد په وړاندې استخداموي. دری: [کارفرما]

## کارګر

هغه حقیقي شخص ته ویل کېږي چې د ټاکلي مزد پر اساس د بل شخص (حقیقي وي او که حکمي) لپاره په یوه کار لاس پورې کوي. دری: [کارگر]

## کاشف أثر

د هغې نتیجې په معنی دی چې د منازعې حقوقي اړخونه بربنډ کړي. دری: [اثر کاشف]

## کامل اشتغال

هغه حالت دی چې په هغه کې ټول افراد چې د کارکولو توان لري د کار په پیدا کولو بریالی شي.
دری: [اشتغال کامل]

## کامل الماهیت

هغه شخص چې اتلس کلنی یې پوره او روغ عقل ولري.
دری: [کامل الاهلیت]

## کامل جنون

هغه لیونتوب دی چې د مغز عادي فعالیت په کامله توګه مختل شوی وي او د شخص د ارادې او تمییز قدرت سلب کړي. دری: [جنون کامل]

## کامل حیازت

هغه حیازت چې ذوالید شخص پر شی باندې د مالك په صفت وي. دری:[حیازت کامل]

## کأن لم یکن

هغه عربي اصطلاح چې په دې معنی چې ګواکې یو شی هیڅکله شتون نه درلوده د نفې لپاره کارول کېږي.
دری: [کأن لم یکن]

## کتابي ولي

هغه شخص چې د اهل کتاب له موازینو سره سم د اهل کتاب منکوحې د واك لرونکی وي. دری: [ولی کتابی]

## کتابیه

هغه ښځه چې له آسماني دینونو څخه په یوه عقیده ولري. دری: [کتابیه]

## کتبي (لیکلې) اجاره

د اجارې هغه ډول عقد چې د عقد د لیکلو له مخې یې انعقاد مونډلای وي. دری: [اجاره کتبی]

## کدستر

د نقشې اخیستنې د خدمتونو سرته رسولو ته کدستر وايي.
دری:[کدستر]

## کرنیز کارګر

هغه شخص چې د ټاکلي مزد په بدل کې په کرنیزو چارو بوخت وي. دری: [کارگر زراعتی]

## کرنیزه ځمکه
د ځمکې هغه ساحه ده چې د قانون له حکمونو سره سم تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې ونیول شي.
دری:[زمین زراعتی]

## کروکي
د ښاري پروژو د ودانیو له نقشو څخه عبارت دی چې په نمونوي ډول د مشخصو اهدافو پر بنسټ برابرېږي او د ټاکلې بیې په بدل کښې د ښاروالی له خوا د اشخاصو په واک کې ورکول کیږي. دری:[کروکی]

## کریدتي مؤسسات
هغه حکمي اشخاص دي چې د مرکزي بانک له خوا په مجوزه توګه د امانات او نور د تادیه وړ وجوه له افرادو څخه تسلیم او په بدل کې یې فعالیت کوي.
دری:[مؤسسات کریدتی]

## کړنلاره (پالیسي او یا سیاست)
هغه عمومي پروګرام چې د مدیرانو د عمل د لارښود په توګه جوړیږي او د پروګرام د اجرا ډول د اداري اجرایی مسئولینو ته معین کوي.
دری: [خط مشی (پالیسی یا سیاست)]

## کساد
هغه حالت دی چې په هغه کې یو کسب او کار په بازار کې له رونق او چلش څخه بیرته پاتې شي.
دری: [کساد]

## کسرات
د عایداتو د لاس ته راوړلو او ساتلو هغه لګښتونه دي چې له عایداتو څخه د هغو د وضع کولو د قانون په نظر کې نیولو سره مجاز وي. دری:[کسرات]

## کشط
د یوه حرف یا کلمې ازاله ده چې په یوه سند کې د تزویر په موخه صورت مومي. دری: [کشط]

## کشف شوي شیان
هغه آثار او شیان دي چې د شخص له خوا په مځکه یا نورو ځایونو کې کشف کیږي. دری: [اشیاء مکتشفه]

## کفاره
هغه ټاکلي مجازات دي چې د شریعت له خوا تعین شوي وي او په خاصو مواردو کې تطبیقیږي.
دری: [کفاره]

## کفالت
هغه حالت دی چې یو شخص ضمانت کوي چې هر وخت داین یا مدیون، وغواړي هغه حاضروي او همدارنګه که څوک پر بل یو حق ولري یا د حق ادعا وکړي د هغه دعوی د منلو وړ ده. دری: [کفالت]

## کفالت شوی دین
هغه دین دی چې کفیل یې په اړوند د مدیون د حاضرولو او یا د هغه د نه حاضرولو په صورت کې داین (مکفول لهٔ) ته د دین د ورکړې ژمنه کوي.
دری:[دین کفالت شده]

## کفو
د دوو شخصو د مماثلت او همګوني ځانګړې موارد.
دری: [کفو]

## کفیل
د شخص ،دین او یا عین او یا د یو حق د لاس ته راوړلو لپاره ضا من شخص ته ویل کیږي.
دری: [کفیل]

## کلأ
هغه خپل سري بوټي دي چې پرته د کرنې په ځمکه کښې زرغونیږي. چې د مباح حکم لري او د تملیک وړ د یو ځانګړي شخص لپاره نه وي. دری:[کلأ]

## كلي إئتلاف
په بشپړه توګه د يو مال له منځه وړل او يا هم د يو حق تر پښو لاندې کولو ته ويل کيږي. دری: ائتلاف کلی

## کلي نسخ
هغه نسخه ده چې پخواني حکم په کلي ډول له منځه وړي. دری: [نسخ کلی]

## کمپيوټري جرم
هغه جرم دی چې د کمپيوټري سالمو (روغو) اطلاعاتو په بهير کې د ګډوډۍ د رامنځته کولو په مقصد له کمپيوټر څخه د ناوړه کار اخيستنې له امله، کمپيوټري او انټرنيټي شبکو او سايټونو ته د اجازې پرته ننوتلو او نفوذ په توګه ارتکاب مومي. دری:[جرم کمپيوتری]

## کميشن کار
هغه شخص دی چې په خپل نامه مګر د بل چا په حساب معاملې تر سره کوي او د هغه په وړاندې اجرت لاس ته راوړي. دری: [کميشن کار]

## کنايه
هغه لفظ دی چې د هغې مراد د قريني له شتوالي پرته ونه پوهېدل شي. دری: [کنايه]

## کنز
د خلکو په واسطه تر ځمکې لاندې خښ شويو مالونو ته ويل کيږي. کيدای شي چې د جاهليت په دوره پورې اړه ولري او يا په اسلام پورې. دری[کنز]

## کنسرسيوم
د څو تجارتي شرکتونو يا سوداګريزو خونو ګډون دی په مؤقته توګه په يوه لويه مؤسسه کې، چې موخه يې د ډېرې ګټې ترلاسه کول دي.
دری: [کنسرسيوم (اتحاد مؤقت شرکت ها)]

## کوپراتيف
له هغو اشخاصو جوړ شوی يو جمعيت دی چې په داوطلبانه ډول يو اقتصادي او يا ټولنيز ګډ هدف ته درسېدلو لپاره سره را ټول شوي وي. دری: [کوپراتيف]

## کوچنۍ ټوټه
هغه ځمکه ده چې مساحت يې د قانون له حکمونو سره سم له يوه هکتاره (پنځو جريبو) نه کم وي.
دری:[قطعه کوچک]

## کوچنی تاجر
هغه کس چی له قانون سره سم او د صنفی جواز نامې په لرلو سره صنفی فعاليت په دی موخه تر سره کړي چې معيشت پرې وکړي او فعاليت يې په ګرځنده يا ثابته توګه تر سره کړي د تجارتي عنوان او دفاترو په لرلو مکلف نه دی. دری: [تاجر کوچک]

## کوچيان
هغه اتباع دي چې دايمي استوګنځی او غير منقول ملکيت ونه لري او د جوي او اقليمي شرايطو او د معيشت لپاره له يوې سيمې نه بلې سيمې ته تګ او راتګ کې وي. دری:[کوچی]

## کورني عوايد
هغه عوايد دي چې د يوه هېواد د کورنيو منابعو او کورنيو معاملو څخه د مالياتو د وضع کولو له امله لاس ته راځي. دری: [عوايد داخلی]

## کورنۍ
هغه ټولنيز واحد دی چې د ښځې او نارينه ترمنځ د واده له امله منځته راغلی وي. دری:[خانواده]

## کورنۍ حيثيت
د شخص کورنی او ټولنيز موقعيت چې د کفائت په مسئله کې د اعتبار وړ وي. دری: [ حيثيت خانوادهگی]

### کورنۍ دعوی

هغه دعوی ده چې له فاميلي حقوقو څخه منځ ته راغلی وي او د فاميل د اعضاوو ترمنځ صورت مومي.
دری:[دعوی فامیلی]

### کورنۍ سود (ګټه)

هغه ګټه ده چې د مؤسسې د يوې برخې څخه د هغې بلې برخې ته د مال د پلورلو له درکه لاس ته راغلی وي.
دری: [سود (نفع) داخلی]

### کورنۍ سوداګري

له هغو سوداګريزو فعاليتونو او معاملاتو څخه عبارت ده چې د يوه هېواد د کورنيو سيمو ترمنځ ترسره کيږي او د هېواد په کورني قلمرو پورې مربوط وي. (سوداګرۍ ته دې مراجعه وشي). دری: [تجارت داخلی]

### کورنۍ حاکميت

هغه حاکميت دی چې دولت د حکومت، اداري سازمانونو او عمومي موسساتو او مربوطه تشکيلاتو له مخې ټول قانوني صلاحيتونه او نافذه قوانين په ټول داخلي قلمرو کې پلی کړي. دری: [حاکمیت داخلی]

### کوژده

د واده د عقد ژمنې ته کوژده ويل کيږي. (د کوژدې انحلال ته دې مراجعه وشي). دری:[نامزدی]

### کونډه

هغې ښځې ته ويل کيږي چې مېړه يې د اجل داعي ته لبيک ويلی وي. دری:[بیوه]

### کيسه بر

پر هغه شخص باندې اطلاق کيږي چې د اشخاصو پيسې او مالونه د هغوې له جيب نه په پټه غلا کوي.
دری:[کیسه بر]